**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د افغــــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۹ / رجب المرجب /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۲۱ / جدی/۱۴۰۳هـ، ش**

# د فرض لمونځونو تر څنګ د سُنتو او نفلو اهتمام هم پکار دی

الحمد لله الذي سهَّل الطريق الى محبته بنوافل الطاعات، والصلاة والسلام على سيدنا محمد المؤيد بالمعجزات، وعلى آله وصحبه أولي الفضل والكرامات، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى:{مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ }الفتح: (۲۹)

**درنو او محترمو اوریدونکو او حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

دا دنیا ، شپه او ورځ ، هفتې او میاشتې ددې لپاره الله جل جلاله زمونږ او ستاسو لپاره پیدا کړي دي چې مونږ او تاسو په دې دنیا کې نیک اعمال وکړو او د آخرت لا یتناهي ژوند لپاره یو څه ذخیره جوړه کړو، خپل رب او خالق راضي کړو ، مخکې د هغې ورځې څخه چې لمر او سپوږمۍ به له دوران څخه ودریږي او بیا به دومره وخت ونه لرو چې سجده په ځمکه باندې ولږوو ځکه وخت به تیر وي او چې کله دآخرت ورځ راشي ؛ نو بیا به الله تعالی ته وایو چې ای ربه! ما دنیا ته بوځه زه به پرته ستا له عبادت څخه بل هیڅ کوم عمل ونه کړم او ستا د رضامندۍ نه علاوه به بل هیڅ عمل نه کوم ؛ خو دا غوښتنې او عذرونه به بیا نه قبلیږي. همدا وجه ده چې نبي علیه السلام مونږ او تاسې ته فرمایي:«اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ » السنن الكبرى للنسائي (۱۰ /۴۰۰)

ژباړه: پنځه شیزونه د پنځو شیزونو څخه مخکې غنیمت وګڼه! ځواني دې مخکې له بوډاتوبه(غنیمت وګڼه)، روغتیا دې مخکې له مریضۍ څخه (غنیمت وګڼه) غنیوالی دې مخکې له فقیرۍ څخه(غنیمت وګڼه)، وزګاري دې مخکې له مشغولتیا څخه (غنیمت وګڼه) او ژوند دې مخکې له مرګ څخه (غنیمت وګڼه) .

بناءً مونږ او تاسو چې الله تعالی د کوم مقصد لپاره پیدا کړي یو، هغه مقصد ته مقصد ووایو او نیکو اعمالو ته ملا وتړو.

نن سبا په خلکو کې کمزوري زیاته شوې ده او عبادت ته یې شا کړې ده او ځینې خلک، خو علاوه له فرضو څخه د سُنتو او نفلو هیڅ اهتمام نه کوي ؛ حال داچې عزت او د الله تعالی قُرب حاصلول په فرضي لمونځونو باندې د اهتمام او د سُنتو او نفلي لمونځونو باندې د عمل کولو څخه پرته نا شونی دي. که چیرې د صحابه کرامو رضی الله عنهم سیرت مطالعه کړو او له هغوی څخه وروسته

د تابعينو او نورو اولياوو ژوند او عمل مطالعه کړو ؛ وبه وينو چې هغوی د فرضي لمونځونو ترڅنګ په سُنتو او نفلي لمونځونو باندې زيات اهتمام کولو.
ځکه چې د سُنتو او نفلي لمونځونو په باره کې زيات ترغيب راغلی دی .

**د سُنتو او نفلو لمونځونو تعريف:**

امام ابن نجيم رحمه الله وايي: أن السنة ما واظب عليه النبي (ص)، لكن إن كانت لا مع الترك، فهي دليل السنة المؤكدة، وإن كانت مع الترك أحيانا فهي دليل غير المؤكدة). البحر الرائق (١ /١٨)،حاشية رد المحتار(١ /١١٣)
ژباړه:- بېشکه سُنت هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورباندې هميشه والی کړی وي که چيرې ترک کړي يې نه وي، نو دا ددې دليل دی چې دا مؤکد سُنت دي او که چيرې کله کله يې ترک کړي وي بيا دا دليل د غير مؤکد توب دی (يعنې دا بيا سنت غير مؤکد دي).
ځينې علماء وايې چې سنت مؤکد هغه سنت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورباندې هميشه والی کړی وي او کله کله يې ترک کړي هم وي .معين المفتی التمرتاشي رح صاحب تنوير الابصار،صفحة(٨٣)، قواعد الفقه ـ للبركتى (صفحة:١٢٧)
مؤکد سُنت په درجه کې واجبو ته نږدې دي.
او نفل لمونځونه هغه لمونځونه دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ور باندې هميشه والی نه وي کړی او نبي عليه السلام يې په اړه ترغيب هم ورکړی وي. معين المفتی التمرتاشي رح،صفحة(٨٣)، قواعد الفقه ـ للبركتى (صفحة:١٢٧)
نفلو لمونځونو ته مستحب لمونځ هم ويل کيږي مندوب لمونځ هم ورته ويل کيږي او تطوع لمونځ هم ورته ويل کيږي.
علاوه د جُمعې دلمانځه د سنتو څخه په شپه او ورځ کې مؤکد سُنت لمونځونه ټول دولس( ١٢) دي چې ځينې يې د فرض لمونځونو څخه مخکې اداء کيږي او ځيني يې د فرض لمونځونو څخه وروسته اداء کيږي.
امام ابن دقيق العيد رحمه الله وايي چې په دې کې نکته پرته ده او هغه داچې ځينې سُنت لمونځونه ددې لپاره د فرض لمانځه څخه مخکې اداء کيږي چې انسان په دنيوي کارونو مشغوله وي او له دې وجې نه په عبادت کې قلبي حضور نلري او خشوع هم يې په زړه کې نه وي کله چې د فرضو څخه مخکني سُنت وکړي په دې سره د عبادت سره أُنس واخلي او په زړه کې يې خشوع را پيدا شي او کله چې په فرض لمانځه کې داخليږي ؛ نو په ډېر غوره او ښه حالت کې په فرض لمانځه کې داخل شي او پخوانۍ حالت له منځه وړي او يايي کمزوری کوي. (يعنې د زړه په حضور او خشوع سره په فرض لمونځ کې داخل شي او دنيوي کارونو سره يې تعلق کمزوری شي) او د فرضو څخه وروسته په سنُتو کې دا نکته پرته ده چې په احاديثو کې راغلي دي چې سُنت لمونځ د فرض لمونځ نقصان جبيره کوي ؛ نو کله چې فرض لمونځ وشي نو په کار ده چې سُنت ورپسې وشي ترڅو هغه نقصان جبيره کړي چې په فرضو کې واقع شوی وي. إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام (١ /١٩٩)

**د سُنتو لمونځونو او نفلو ترک کولو حکم**

سُنت لمونځ او نفل لمونځ چې څوک په دوامداره توګه پريږدي ؛ په حقيقت کې ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اتباع او پيروۍ څخه مخ واړولو او د زيات خير څخه يې ځان محروم کړ. د سنت لمونځ په اداء کولو کې درسول الله صلى الله پيروي او اتباع پرته ده او د رسول الله صلى الله عليه وسلم اتباع د الله تعالى د محبت او د هغه د مغفرت سبب دی. الله تعالى فرمايي:{قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ} آل عمران: (٣١)
ترجمه:- ووايه (ای محمده ! دوی ته) که چېرې يئ تاسې چې محبت کوئ له الله سره، پس متابعت وکړئ زما، چې محبت به وکړي الله له تاسې سره او مغفرت به وکړي تاسې ته د ګناهونو ستاسې، او الله مغفرت کوونکی د (خطيا تو) ډېر رحم کوونکی دی.

**وجه داستدلال:** هغه څوک چې د نبي عليه السلام د سنتو اتباع نه کوي او د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د متابعت دعوا کوي ، هغه په خپله دعوا کې درواغجن دی. حافظ ابن کثير وايي: دا آيت پر هر هغه چا حجت دی چې د الله تعالی د محبت دعوا کوي ؛ خو په محمدي طريقه باندې نه وي روان او داسې کس په حقيقت کې په خپله دعوا کې درواغجن دی؛ تر هغې پورې چې د محمدي شريعت متابعت ونه کړي او نبوي دين د نبي عليه السلام د ټولو اقوالو،د ټولو افعالو اود ټولو حالاتو څخه عبارت دی.تفسير ابن کثير / دار الفکر (١ /٤٤٠)

د سُنتو او نوافلو لمونځ هغه څه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کړي دي او الله تعالی د هغه څه په عملي کولو امر کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته راوړي دي.الله تعالی فرمايلي دي: {وَمَا آَتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا}لحشر(٧)

ترجمه:- او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول (د الله)؛ نو وايې خلئ، ويې نيسئ، قبول يې کړئ !، او هغه څه چې منع کوي (رسول الله )تاسې له هغه څخه؛ نو بېرته شئ ترې (مه يې غواړئ !)

همدارنګه د سنتو او نوافلو په اهتمام کې د الله تعالی ددين اهتمام دی او دهغه د شريعت اهتمام دی او په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې اقتداء ده لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:(لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً) الأحزاب: (٢١)

ترجمه:- خامخا په تحقيق ده تاسې ته په رسول الله کې اقتداء غوره نېکه لپاره د هغه چا چې وي دی چې ډاريږي د الله (او اميد لري د رضاء او د لقاء يې) او د ورځې وروستنۍ (د قيامت)، او يادوي الله ډېر (هم په خوله هم په زړه هم په راحت هم په زحمت)

علامه تفتازاني رحمه الله ليکلي دي: (وَتَرْكُ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ قَرِيبٌ مِنْ الْحَرَامِ يَسْتَحِقُّ حِرْمَانَ الشَّفَاعَةِ). شرح التلويح على التوضيح (٢ /٢٥٣)

ژباړه:- مؤکد سُنت پرېښودل حرامو ته نږدی دی، او ددې لايق دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شفاعت څخه محروم شي

فقهای کرامو ليکلي دي چې مؤکد سنت واجبو ته نږدې دی او په ترک د سُنتو کې وعيد راغلی دی او کوم کس چې پنځه وخته سنت لمونځونه پرېښودل که چيرې دا عقيده درلوده چې دا حقيقي سنت نه دي؛ نو دی کافر شو ځکه ده سنت لمونځ د سپک ګڼلو په وجه پرېښې دي او که چيرې يې حقيقي سنت ګڼل،نو صحيح خبره داده چې داکس ګناه ګار دی ځکه په ترک د سُنتو کې وعيد راغلی دی. او په محيط کې راغلي دي چې د مؤکدو سُنتو پرېښودل جواز نلري اګر که يواځې لمونځ کوي او دا احوط خبره ده. البحر الرائق (٢ /٥٢)

حنفي مجتهدين او شوافع مجتهدين وايې چې د سُنتو اداء کول په سفر کې هم مستحب دي ؛ ځکه يوخو دا سنت د فرايضو مکملات دي او بل په دې باندې رسول الله صلی الله عليه وسلم هميشه والی کړی دی په ټولو حالاتو کې او په ټولو سفرونو کې.

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٥ /٢٨٣)

علامه ابن عابدين رحمه الله ليکلي دي: ( قَوْلُهُ وَسُنَّ مُؤَكَّدًا ) أَيْ اسْتِنَانًا مُؤَكَّدًا، بِمَعْنَى أَنَّهُ طُلِبَ طَلَبًا مُؤَكَّدًا زِيَادَةً عَلَى بَقِيَّةِ النَّوَافِلِ، وَلِهَذَا كَانَتْ السُّنَّةُ الْمُؤَكَّدَةُ قَرِيبَةً مِنْ الْوَاجِبِ فِي لُحُوقِ الْإِثْمِ كَمَا فِي الْبَحْرِ، وَيَسْتَوْجِبُ تَارِكُهَا التَّضْلِيلَ وَاللَّوْمَ كَمَا فِي التَّحْرِيرِ : أَيْ عَلَى سَبِيلِ الْإِصْرَارِ بِلا عُذْرٍ كَمَا فِي شَرْحِهِ). حاشيه ابن عابدين (٥٥٢/١) .

ژباړه:- د سنت مؤکدو څخه مراد يعنې محکم سنت دي په دې معنا چې غوښتنه يې مؤکد او محکمه ده نسبت نورو نوافلو ته، او ددې وجی نه مؤکد سنت واجبو ته نږدې دي د ګناه د الحاق له وجی او ترک کوونکی يې مستحق د ګمراهۍ او ملامتيا دی لکه په التحرير کې چې راځي يعنې پرېښودل يې پرته له عذره په دوامداره توګه.

ځینې علماء او مجتهدین وایې چې څوک مؤکد سنت په دوامداره توګه پرېږدي هغه فاسق او مردود الشهادت دی. الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٥ /٢٧٧)

امام نووي رحمه الله لیکلي دي:(من واظب علي ترك الراتبة أو تسبيحات الركوع والسجود ردت شهادته لتهاونه بالدين). المجموع (٤ /٣٠)

ژباړه:- څوک چې د رواتبو سنتو په ترک باندې همیشه والی کوي او یا د رکوع او سجدې د تسبیحاتو په ترک باندې همیشه والی کوي ، د هغه شهادت به رد کیږي د وجی د هغه د سستی نه په دین کې.

همداراز د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو په وړاندې بې پروایي او بې اهمیتي کول دي ، که سړی د مستحبو پر وړاندې بې پروا شي نو هغه به د شیطاني دسیسو له مخې له سنتو بې پروا شي او بالآخره به له فرضو هم بې پروا شي ، آخر به یوازې فرض لمونځ کوي هغه هم بې وخته او په بد شان چې ارکان یې صحیح نه وي.

## د سُنتو او نفلي لمونځونو فضائل او وربانډې اهتمام کول:

ډیر د تأسف ځای دی چې ځینې خلک د فرض لمونځونو څخه یا مخکنی سُنت لمونځ نه کوي او یا له فرضو څخه وروستني سُنت لمونځونه نه کوي سره ددې چې د سُنتو لمونځونو په اړه زیات احادیث راغلي دي او د سُنتو په باره کې زیات ترغیب راغلی دی او بې شمیره فضائل یې په احادیثو کې نبي علیه السلام بیان کړي دي او نبي علیه السلام هغه حسنات بیان کړي دي چې په سُنتو لمونځونو کې پراته دي او ددې سُنتو دومره اهمیت او مقام کافي دی چې رسول اکرم صلی الله علیه السلام وربانډې مواظبت کړی دی او حتی په سفر کې یې هم نه دي ترک کړي. الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٥ /٢٨٣)

سُنت او نفل لمونځه زیات فضائل او ګټې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

١- د فرضو څخه وروسته بنده الله تعالی په نفلو سره قُرب او نزدیکت حاصلوي ، ځکه د نوافلو په کولو سره سړی د محبوبیت درجې ته رسیږي .په حدیث شریف کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ اللَّهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ». صحيح البخاري (٨ /١٠٥)

ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې بیشکه الله تعالی فرمایلي دي: څوک چې دښمني وکړي زما د ولي سره، په تحقیق سره ما هغه ته اعلان کړی دی د جنګ او نه نږدې کیږي ماته زما بنده په یو شی سره چې هغه دې زیات ماته خوښ وي د هغه څه نه چې ما وربانډې فرض کړي دي او همیشه زما بنده نږدې کیږي ماته په نوافلو سره تر دې پورې چې زه هغه خپل محبوب وګرځوم،کله چې زه هغه خپل محبوب وګرځوم بیا زه شم غوږونه د هغه چې اوریدل کوي په هغه سره (یعنې زه یې دغوږونو حاجت پوره کوم) او (شم زه) د هغه سترګې هغه سترګې چې لیدل کوي په هغې سره (یعنې زه یې د سترګو حاجت پوره کوم) او (شم زه) لاس د هغه هغه لاس چې نیول کوي وربانډې کوي(یعنې د لاس حاجت یې ورپوره کوم) او (شم زه) پښه دده هغه پښه چې تلل کوي په هغې (یعنې هغه د پښو حاجت ولري پوره کوم یې) او که چیرې زما څخه سوال وکړي خامخا زه یې ورکوم او که چیرې پر ما پناه وغواړي (ددښمن څخه) خامخا زه ورته پناه ورکوم.

په دې قدسي حدیث کې څو فائدې ذکر شوي دي: لومړی داچې الله تعالی د خپلو اولیاوو انتقام په خپله اخلي. بله داچې دالله تعالی قرب او نزدیکت د فرضو او نوافلو په کولو سره ترلاسه کیږي. بله داچې الله تعالی د ولي ټول حاجتونه په خپله پوره کوي او د هغه خاص حمایت او نصرت کوي، همدا راز د هغه په غوږونو، سترګو ، لاسونو او پښو کې توفیق د طاعت اچوي.

د اندامو کيدو نه مطلب دا دی چې بيا دغه ټول اندامونه د الله تعالی په رضا کې کارول کيږي يا د هغه سره مرسته او مدد دی او د هغه په هر کار کې برکت اچول دي .

۲- د فرضو د نقصان پوره کول ، د قيامت په ورځ چې کله د لمانځه حساب وشي او په لمانځه کې نقصان راشي نو هغه به د سنتو او نفلي لمونځونو څخه پوره کيږي .

په حديث شريف کې راځي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ، فَإِنْ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ، قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ فَيُكَمَّلَ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الفَرِيضَةِ » سنن الترمذي (۲ /۲۷۰)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم واوريدل چې وه يې فرمايل: د قيامت په ورځ به د بنده په اعمالو کې (د ټولو نه مخکې ) دهغه سره دهغه د لمانځه حساب وي، که چيرې دهغه د لمانځه حساب صحيح وو، نو کامياب شو او نجات يې وموندلو اوکه چيرې (لمونځ يې) خراب راووت، نو نا مراده او تاواني شو، که چيرې د هغه په فرض لمانځه کې د څه شي نقصان موجود وي؛نو الله تعالی به وفرمايي:وګورئ آيا زما بنده نفل لمونځ لري،پس پوره به کړی شي په نفلو سره هغه نقصان چې دده په فرضوکې ؤ.

۳- په سُنت او عام نفلي لمونځونه انسان د اهل ؤ مال او د ګاونډي له فتنې څخه ساتي . په حديث شريف کې راځي: عن حُذَيْفَةُ قال أَنَا سَمِعْتُهُ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَجَارِهِ، تُكَفِّرُهَا الصَّلاَةُ وَالصِّيَامُ وَالصَّدَقَةُ». صحيح البخاري (۳ /۲۵)

ژباړه:- د حذيفه بن يمان رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې وه يې فرمايل: د سړي فتنه په اهل کې ، د هغه په مال کې او د هغه په ګاونډي کې له منځه يې وړي ورڅخه لمونځ، روژه او صدقه.

**توضيح:** ددې فتنې څخه مراد لکه چې قاضي عياض رح وايي مبتلاء کيدل په محبت د اهل او اولاد کې او د خپل مال سره مينه افراطي مينه کول دي. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي (انما أموالكم و أولادكم فتنة)، او فتنه د ګاونډي څخه مراد د ګاونډي د مال په شان د مال تمنا کول دي که چيرې هغه مالداره وي، ددې ارمان کول چې کاش زما حال هم د ګاونډي د حال په شان وای. نو په دې حديث شريف کې راځي چې لمونځ او روژه او صدقه د انسان څخه دغه فتنې محوه کوي او لمنځه يې وړي. العمدة (۷/ ۳۱۳)

۴- د سُنت په اهتمام سره کول د شيطان طمع او توقع له منځه وړي.امام قاضي خان وايي: د فرضو څخه مخکې سنت کول ددې لپاره مشروع شوي دي چې د شيطان طمع له منځه لاړه شي ؛ځکه شيطان وايي: کله چې څوک زما په هغه څه کې اطاعت نه کوي چې فرض ورباندې نه دی ؛ نو په هغه څه کې به مې څرنګه اطاعت وکړي چې ور باندې فرض شوی دی.

۵- په سُنتو او نوافلو لمونځونو سره د مسلمان درجات لوړيږي او ګناهونه يې رژيږي. په حديث شريف کې راځي: عن ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم : «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً». صحيح مسلم (۱ /۳۵۳)

ژباړه:- د ثوبان رضي الله عنه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ازاد شوی غلام دی،روايت دی هغه وايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (لازم دي ) په تا زياتې سجدې کول خاص الله تعالی لره؛ بيشکه ته الله تعالی ته يوه سجده نه لروې ؛ مګر داچې اوچت به کړي تالره الله تعالی دسجدې په وجه يوه درجه او لری به کړي له تا دسجدې په وجه يوه خطا.

٦- دسهارسنت په ټولو سُنتو لمونځونوکي قوي ترين سُنت دي ، دسهار سنت ددنيا او هغه څه نه چې په دنيا کې دي بهتر دي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا» صحيح مسلم (۱ /۵۰۱)

ژباړه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: د سهار دوه رکعتونه غوره دي د دنیا څخه او له هغه څه نه چې په دنیا کې دي.
په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة، قال: قال رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم -: "لا تدَعُوهما وإن طَرَدَتْكم الخَيْلُ». سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٢ /٤٤٢)
ژباړه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا (د سهار دوه رکعته سنت) مه پرېږدئ، اګر که تاسې لره و شړي آسونه.
**توضیح:** د آسونو په زغلولو یا شړلو کې معناګانې پرتې دي.لومړی: یعنې د سهار سنت مه پرېږدئ ولو که دلښکر د آسونو د حرکت وخت رارسیدلی وي او ددې ویره وي چې لښکر به در څخه لاړشي؛ بلکې په دې تنګ او لنډ وخت کې هم د سهار سنت وکړئ چې په دې کې زیات تأکید پروت دی .
دوهمه: د سهار سنت مه پرېږدئ ولو که تاسو پسې ددښمن آسونه وي او ددې ضرورت وي چې ددښمن له آسونو باید وتختو ترڅو ومو نه وژني، بیا هم د سهار سنت وکړئ ولو که دآسونو یا اوښانو په شا باندې وي.عون المعبود (٤ /٩٦)
**٧-** څوک چې په هره ورځ (او شپه) کې دولس رکعته سنت لمونځ وکړي، الله تعالی به ورلره په جنت کې کور جوړکړي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلَّهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا، غَيْرَ فَرِيضَةٍ، إِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ» قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ: «فَمَا بَرِحْتُ أُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ». صحیح مسلم (١ /٥٠٣)
ژباړه: له ام حبیبې رضي الله عنها د نبي علیه السلام له کور ودانې څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: نشته یو مسلمان بنده چې خاص د الله تعالی لپاره په هره ورځ (او شپه کې) دولس رکعته نفلي (سنت) لمونځ وکړي علاوه له فرضو څخه ؛ مګر داچې الله تعالی به ورلره جوړ کړي یو کور په جنت کې یا داسې وفرمایل: مګر دا چې جوړ به کړل شي دده لپاره کور په جنت کې. بیا ام حبیبه رضي الله عنها فرمایي چې ددې څخه وروسته به ما تل دا (دولس رکعته) لمونځ کولو.
په یو بل حدیث شریف کې راځي چاچې په ورځ کې دولس رکعته سنت لمونځ وکړ، جنت ته به داخل شي. عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ ثَابَرَ عَلَى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ دَخَلَ الْجَنَّةَ، أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ» سنن النسائي (٣ /٢٦٠)
د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې همیشه والی وکړ په دولسو رکعتونو(سنتو) باندې په یوه ورځ او شپه کې داخل به شي جنت ته. څلور رکعته مخکې له ماسپښین لمانځه څخه مخکې او دوه رکعته دماسپښین لمانځه څخه وروسته، او دوه رکعته د ماښام لمانځه څخه وروسته او دوه رکعته د ماخوستن لمانځه څخه وروسته او دوه رکعته د سهار له لمانځه څخه مخکې.
په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ». سنن الترمذي (٢ /٢٩٣)
ژباړه:- د ام حبیبه رضي الله عنها څخه چې د نبي علیه السلام کوروداني ده روایت دی هغه وایې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یی: څوک چې همیشه والې وکړي په څلورو رکعتونو (سنتو) باندې د ماسپښین (لمانځه) څخه مخکې او په څلورو رکعتونو باندې د ماسپښین د لمانځه څخه وروسته، الله تعالی به یې حرام کړي په اور باندې.

**توضيح :** دا هغه مؤكد سنت دي چې په شپه او ورځ کې د فرض لمانځه نه مخکې او وروسته اداء کيږي چې سنت رواتب هم ورته ويل کيږي.

دام حبيبه رضي الله عنها په دوهم روايت کې راځي[ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا] حنفي فقهاء او محدثين وايې چې په دې کې دوه رکعته سنت دي او دوه رکعته نفلی لپاره د بيان د جواز او يا دا په توسع باندې حمل دی ؛ ځکه چې څلور يې وکړل ؛ نو په دوو هم عمل راغی. عمدة القاري شرح صحيح البخاري (٧ /٢٣٣)

په نورالايضاح کې راځي: سن سنة مؤكدة ركعتان قبل الفجر وركعتان بعد الظهر وبعد المغرب وبعد العشاء وأربع قبل الظهر وقبل الجمعة. نور الإيضاح (ص: ٦٢)

سنت دي مؤکد سنت دوه رکعته مخکې دسهار لمانځه څخه او دوه رکعته د لماسپښين د لمانځه څخه وروسته او دوه رکعته د ماښام او ماخوستن لمانځه څخه وروسته او څلور رکعته مخکې د لماسپښين او جُمعې د لمونځونو څخه .

**٨-** د ماښام فرضو څخه وروسته به نبي عليه السلام دوه رکعته سنت لمونځ کولو. په حديث شريف کې راځي: عن عبد الله بن مسعود : - أن النبي صلى الله عليه و سلم كان يقرأ في الركعتين بعد صلاة المغرب { قل يا أيها الكافرون وقل هو الله أحد } سنن ابن ماجه (١ /٣٦٩)

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې نبي عليه السلام به لوستلو په هغو دوه رکعتونو کې چې د ماښام د فرض لمانځه څخه وروسته اداء کيږي قل ياايها الكافرون (سورت).او( د)قل هوالله احد (سورت)

**٩-** نبي عليه السلام به د ماخوستن فرض لمونځ پسې دوه رکعته سنت لمونځ کولو. په حديث شريف کې راځي: عن عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا تَقُولُ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ ». مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر (ص: ٩٠)

ژباړه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دا عادت ؤ چې لمونځ به کولو د ماخوستن (دفرض لمونځ) څخه وروسته دوه رکعته.

**١٠-** د جمعې د لمانځه څخه مخکې او وروسته به رسول الله صلى الله عليه وسلم څلور رکعته سُنت لمونځ کولو. په حديث شريف کې راځي:عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ:« كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَرْكَعُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا، لَا يَفْصِلُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ»». سنن ابن ماجه (١ /٣٥٨)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې د نبي عليه السلام دا عادت ؤ چې لمونځ به يې کولو مخکې د جُمعې (له لمانځه) څخه څلور رکعته ، فصل به يې نه راوستلو په هيڅ شي د څلورو رکعتونو کې.

**١١-** د تراويح لمونځ هم سنت مؤکد دی او که چيرې رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې څخه ويره نه درلودلای چې د هغه پر امت باندې به فرض وګرځي؛ نو هميش به يې کولی.

**په نفلي لمونځونو باندې اهتمام کول:**

لکه چې مخکې مو وويل نفلي لمونځونه هغه لمونځونه دي چې نبي عليه السلام کړي دي خو کله کله يې پريښي دي او يا يې په اړه خلکو ته ترغيب ورکړی دی.

نفلي لمونځونه د وخت په اعتبار سره په دوه ډوله دي يو هغه نفلي لمونځونه دي چې په عامو اوقاتو کې اداء کيږي او بل هغه نفلي لمونځونه دي چې په معَيَّنو وختونو کې اداء کيږي لکه مازيګر، ماښام ، ماخوستن او داسې نور.

**١-** د مازيګر لمانځه څخه مخکې د څلورو رکعتونو په اړه نبي عليه السلام ترغيب ورکړی دی. په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « رَحِمَ اللَّهُ امْرَأً صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا ». سنن أبى داود(١ /٤٩٠)

ژباړه:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول اللله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى دې رحم وکړئ پر هغه سړي چې لمونځ وکړي د مازيګر (فرضي لمانځه ) څخه مخکې څلور رکعته.

۲- د ماښام لمانځه څخه وروسته شپږ رکعته لمونځ زيات فضليت لري.په حديث شريف کې راځي: عن عَمَّارَ بْنَ يَاسِرٍ قَالَ : رَأَيْتُ حَبِيبِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ ، وَقَالَ : مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ).المعجم الصغير للطبراني (۲ /۱۲۷)

ژباړه:- د عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما خپل حبيب رسول الله صلی الله عليه وسلم وليده چې لمونځ يې وکړ پس د ماښام له لمانځه څخه شپږ رکعته او وه يې فرمايل: څوک چې لمونځ وکړي د ماښام لمانځه څخه وروسته شپږ رکعته وبه ښښل شي ورته د هغه ګناهونه اګر که په شان د زګ د بحر وي.

۳- څوک چې د لماخوستن لمانځه څخه وروسته څلور رکعته لمونځ وکړي داسې ده لکه د ليلة القدر په شپه چې يې کړي وي.

عَنْ الْبرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ صَلَّى قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ كَأَنَّمَا تَهَجَّدَ بِهِنَّ مِنْ لَيْلَتِهِ، وَمَنْ صَلَّاهُنَّ بَعْدَ الْعِشَاءِ كُنَّ كَمِثْلِهِنَّ مِنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ» المعجم الأوسط (٦/ ٢٥٤)

ژباړه: د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: څوک چې دماسپښين لمانځه څخه مخکې څلور رکعته وکړي دا داسې ده لکه چې څلور رکعته د شپې تهجد يې کړي وي او چاچې څلور رکعته لمونځ وکړ د لماخوستن د لمانځه څخه وروسته داسې ده لکه دغه څلور رکعته وي پشان د څلور رکعتو د ليلة القدر.

۴- د څاښت لمونځ. (صلاة الضحى) دڅاښت له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه قولاً او عملاً ثابت دی .په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:« كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّى الضُّحَى أَرْبَعًا وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللَّهُ». صحيح مسلم (۲ /۱۵۷)

ژباړه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د څاښت لمونځ څلور رکعته کولو او کله به يې زيات کولو .

او په مستحبو لمونځونو کې تحية المسجد دوه رکعته دی، د اودس څخه وروسته دوه رکعته مستحب دی او دوه رکعته صلاة حاجت دی او د تهجدو لمونځ دی چې مرتبه يې د نورو مستحبو لمونځونو څخه زياته ده.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم وسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله**